د 24-2023 ښوونځی کال
د 3 څخه تر 5 ټولګي پورې د ابتدایه ساینس د خوندیتوب قواعد

**Dr. Julia Renberg**, د ساینس نظارت کوونکی

*په ساینسي اصولو باندې تسلط تر لاسه کولو لپاره عملي پلټنې/تجربې تر سره کول اړین دي. د ساینس درس پر مهال، زده کوونکي مختلف ډول توکي او آلات کاروي. هر زده کوونکی حق لري چې د زده کړې په خوندي او کټور چاپیریال کې شتون ولري. د هر ډول ساینسي فعالیتونو ترسره کولو دمخې ضمیمه شوي قوانین باید د زده کوونکو او د هغوی د والدینو / سرپرستانو لخوا لاسلیک شي.*

## د ساینس قواعد

1. زه به یو مسؤلیت پیژندونکی ساینس پوه اوسم!
2. زه به یوازې په هغه وخت کې په کور کې ساینسي فعالیتونه ترسره کوم **کله چې د یو بالغ کس لخوا نظارت کېږم.**
3. زه به په دقت سره غوږ نیسم او ټول لیکلي او شفاهي لارښووني به تعقیبوم.
4. زه به پوښتنې کوم کله چې زه په یو څه پوه نشم.
5. زه به له اجازې پرته هیڅ ډول ساینسي توکو ته لاس ور نه وړم او یا ورسره لوبې وکړم.
6. زه به خپل ځان او نور خوندي ساتم.
7. زه به خپل لاسونه د خپل مخ، سترګو او خولې څخه لیرې ساتم.
8. زه به خپل لاسونه زیات ځلې مینځم.
9. زه به خپل شاوخوا پاک ساتم او د لارښووني سره به سم توکی لیرې غورځوم.
10. زه به ساینسي توکی له ټولګي څخه بهر نه وباسم.
11. زه به یو بالغ کس ته خبر ورکوم کله چې زه یو څه یا یو څوک ناخوندي وګورم.
12. زه به محتاط اوسم که چیرته زه کوم تیره څیز، لکه کینچی یا شیشه کاروم.
13. زه به هیڅ کوم څیز ته لاس ور نه وړم، وخورم، وڅښم یا بوي کړم کوم چې په ساینسي فعالیت کې کارول کیږي پرته له دې که کوم بالغ کس یې راته ووایې.
14. د بالغ کس د لارښوونی سره سم، زه به هر ډول د خوندیتوب آلات اچوم (اغوندم) یا کاروم.

## د PWCS د ابتدایه ساینس د خوندیتوب ژمنه

*ما د خپل مور او پلار/سرپرست سره یو ځای د خوندیتوب دا قواعد لوستلي دي. زه هوکړه کوم چې دا قواعد او نور هر ډول اضافي لارښووني به تقیبوم چې ماته زما د ښوونکي لخوا په لیکلې بڼه یا په شفاهي ډول راکول کیږي. زه پوهیږم چې د ساینس خوندیتوب د هر یو کس مسؤلیت دی.*

______________________________________________

***زده کوونکی نوم*** ***نیټه***

______________________________________________

***والدینو/سرپرست لاسلیک*** ***نیټه***